# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبــــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم*

| www.afgazad.com | afgazad@gmail.com |
|---|---|
| Political | سیاسی |



یونس نګاه
۲۵ اګست ۲۰۲۳




**یونس نګاه**

# د پاسپورټونو په درجه بندۍ کې
# د افغانستان او سیمې د سیاسي او تمدني سقوط تصویر

له افغانستانه بهر د سفر کولو لپاره د ویزې د ترلاسه کولو پر ستونزو ټول خبر یو، خو هغه څه چې د ویزې له ترلاسه کولو وروسته پر افغان مسافرو تېرېږي یوازې د هغو هېوادوالو یوې ورې ډلې ته معلوم دي، چې د د ویزې د ترلاسه کولو او سفر کولو لپاره یې کافي پیسې او اسانتیاوې لرلې دي. زموږ د هېواد دا خورا ارزښتناکه کتابچه د نړۍ له تر ټولو وروسته پاتې او ترټلي هېواد سره د تړاو سند دی. یو داسې هیواد چې عملاً یې ټولې نړۍ پر مخ خپلې دروازې تړلې دي. د دې کتابچې له لرونکو سره په هوایي ډګرونو کې ځانګړې چلند کېږي. هر هغه څوک چې د افغانستان قیمتي کتابچه لري، په بالقوه توګه خطرناک او مشکوک ګڼل کېږي. د ګمرکونو مامورین د افغان مسافرو اسناد او د هغوی ظاهري بڼه په خورا ځیرتیا سره ارزوي او امنیتي کارکوونکي د هغوی حرکتونه څاري.ان هغه رسمي پلاوي چې افغاني پاسپورټونه لري، په دقت او شک سره ارزول کېږي. په ځینو هېوادونو کې افغان مسافر له اصلي کتاره ایستل کېږي او د پسونو د رمې په څېر جلا کېږي او د بیا ارزونې لپاره جلا دفتر یا لارې ته لیږدول کېږي. د هغو شپېو کتل چې زموږ هېوادوال له پاسپورټونو سره په یوه کونج کې درېږي او په اسانۍ او له کوم جنجال پرته د نورو تېرېدل ګوري، ځورونکي دي.

تاسو ښایي په خبرونو کې لوستلي وي چې افغانستان د پاسپورټونو په وروستۍ درجه بندۍ کې په نړۍ کې تر ټولو ټیټ مقام خپل کړی دی. دا درجه بندي په هرو دریو میاشتو کې د «هنلي» په نوم د یوې ادارې له خوا او د نړیوال هوایي ټرانسپورټ د ټولنې د معلوماتو پر بنسټ ترسره کېږي او ګڼ عوامل لکه د هغو هېوادونو شمېر چې پاسپورټ لرونکي یې له ویزې پرته سفر کولای شي، له نړۍ سره د مطلوب هېواد ډیپلوماتیکې اړیکې او هغه نړیوال تړونونه چې دغه هېواد لاسلیک کړي، په پام کې نیول کېږي. افغانستان اوس په نړیوالو اړیکو کې بې دولته هېواد دی، د یوه

رسمي حکومت د نشتولي له امله د دغه هېواد نړیوال تړونونه بې مانا شوي او په پایله کې یې زموږ له خلکو د سفر او تګ او راتګ اسانتیا اخېستل شوې ده. افغانان نه شي کولای له ویزې پرته کوم لوی بهرني منزل ته سفر وکړي. د هِنلي په نوملړ کې د افغانانو لپاره له ویزې پرته د سفر لپاره ۲۷ ځایونه په ګوته شوي چې یو شمیر هغه ټاپوګان او هیوادونه دي چې افغانان هلته د سفر کولو اړتیا نه لري. کومرو ټاپوګان، کیپ ورډ ټاپوګان، هایتي، ډومینیکا، مراکش او بنګله دیش د دغو ځایونو له ډلې دي. هغه وېرې ته په پام سره چې له افغانستانه شته، دغو منزلونو ته زموږ د خلکو په ظاهره آزاد سفر له سرخوږي پرته نه شي کېدای. د افغانستان او هېڅ یوه دغه منزل تر منځ مستقیمه الوتنه نشته او که له کابله څوک پلان ولري چې دغو هیوادونو او ټاپوګانو ته یو ته سفر وکړي، نو په ډېر احتمال سره به د دریم هیواد ترانزیتي ویزې ته اړتیا ولري. ان که له دریم هېواده د ترانزیت لپاره ویزې ته اړتیا نه وي، دا معلومه نه ده چې دغو ځایونو ته به د افغان مسافرو په رسېدو سره څه ډول چلند ورسره وشي. او احتمال لري چې بیرته راوګرځول شي. په دې حساب، د افغانستان خلک نه شي کولای د نړۍ هېڅ ځای ته له ویزې پرته سفر وکړي.

د بې وزلی او محرومیت زنځیر

په دې درجه بندۍ کې د نړۍ ۲۲ هېوادونه له لږ توپیر سره په لومړي سر کې دي. سینګاپور، چې د پاسپورټ لرونکي یې کولای شي ۱۹۲ هېوادونو ته له ویزې پرته سفر وکړي، د نوملړ په سر کې دی، ورپسې پرتګال او سویس دی. که څه هم سینګاپور د لیست په سر کې دی او جاپان هم د دې شلو هیوادونو په منځ کې لیدل کېږي، خو د دې برخې د مخکښو اصلي نفوس د لوېدیځ او په ځانګړې توګه د اروپا دی. هماغه هېوادونه چې د زده کړې، کار او مدني او سیاسي ازادیو په برخه کې د غوره والي له امله شهرت لري او هر کال د نړۍ له بېلابېلو برخو خلک ورته د تګ هڅه کوي. د افغانستان او زموږ د سیمې د اوسېدونکو لپاره چې د ازادۍ، کار او زده کړې له نعمتونو بې برخې دي، اروپا د ځمکې زړه او د سوکالۍ او ازادۍ د غوښتونکو قبله ګرځېدلې ده. هر کال زموږ په زرګونو هېوادوال اروپا ته د رسیدو لپاره په ناقانونه لارو سفر کوي او ډیری یې پرته له دې چې منزل ته ورسېږي خپل ټول هغه کم څه له لاسه ورکوي، چې د ایران، پاکستان، ترکیې او ځینو عربي هیوادونو په فابریکو کې یې د کلونو کار کولو پایله ده. تر دې هم بده دا ده چې هر کال سلګونه کسان اروپا ته پر قاچاقي لارو مري. سږ کال د کډولۍ نړیوال سازمان اعلان وکړ چې له ۲۰۱۴ کال راهیسې ۵۰۰ افغان کډوال اروپا ته د تللو پر مهال مړه شوي دي. دا هغه شمېر دی چې حکومتونو او بنسټونو ثبت کړی دی. د قربانیانو اصلي شمېر تر دې ډیر دی.

هغه هېوادونه چې اوسېدونکي یې د نړۍ ډېرې برخو ته له ویزې پرته سفر کولای شي، هغو ځایونو ته هم له ستونزې پرته سفر کولای شي چې ویزې ته اړتیا لري. د محرومو هیوادونو اوسېدونکي، په ځانګړې توګه افغانستان، خو د نړۍ له ډېرو هېوادونو له لویه سره ویزه ترلاسه کولای نه شي. اوس د دوو ګاونډیو هیوادونو (پاکستان او ایران) د ویزې اخیستل چې پخپله د ډیپلوماسۍ او سفر په زندانونو بدل شوي، د ډیری هېوادوالو هیله ده. دغو هېوادونو په تېره بیا د طالبانو له راتګ وروسته، ویزې په یوه ګټور کاروبار بدلې کړې او کله ناکله خلک د طالبي چاپېریاله د تېښتې او د سالم سفر لپاره په تور بازار کې د ویزو او د سفر د ټکټونو په پیرلو څو زره ډالر لګوي. د سیمې په هېوادونو کې د افغان کارګرانو او ناروغانو د سفر لګښت د نورو هېوادونو په پرتله ډېر ګران دی. د بېلګې په توګه، کله چې د شارجې دوه کارګران پېښور او جلال اباد ته د راستنېدو پلان ولري، د جلال اباد کارګر باید تر خپل پېښوري همکار ډېرې پیسې ورکړي. افغان مسافر چې په منځني ډول د نورو په پرتله بې وزلی دی، د سفر له ډیرو محدودیتونو سره مخ دی او که ورته د سفر چانس ورکړل شي، اړ دی چې د نورو په پرتله زیاتې پیسې ولګوي. په دې ډول زموږ خلک د محرومیت او بې وزلی په زنځیر کې بند پاتې دي.

افغانستان يوازې نه دی

هماغسي چي د دغه نوملړ مخکښان يو شمېر هېوادونه دي، د نوملړ په پای کې هم افغانستان يوازې نه دی. په دغه نوملړ کې کي پاکستان، عراق، سوريه، يمن، ايران، بنګله ديش او کوسوو هم شامل دي. د افغانستان، عراق او پاکستان تر منځ ډېر توپير نشته. پاکستانيان کولای شي د افغانانو په پرتله درې نورو ځايونو ته له ويزې پرته سفر وکړي. ايران په ښه وضعيت کې دی او ايرانيان کولای شي د قطر او ترکيې په ګډون څو نسبتاً سوکاله هيوادونو ته له ويزې پرته سفر وکړي.خو په ټوله کې د ايران ځای له افغانستان سره د پام وړ توپير نه لري. د ښېلګې په توګه، د جنوبي سوډان، اريتريا، د کانګو ديموکراتيک جمهوريت او نايجيريا پاسپورت د ايران تر هغه پياوړی دی. دا ټکی د ناورين د سيمه ايزو اغېزو ښودنه کوي. موږ بايد د ثبات او پرمختګ لپاره د سيمه ييزې همکارۍ اهميت او په ورته وخت کې د وروسته پاتې والي، جګړې او محروميت د خپريدو خطر په پام کې ونيسو. هغه ګاونډيان چي پرمختګ غواړي، تحصيل يې کړی او يو ولسي حکومت لري، زموږ د ژوند پر شرايطو او نړيوال وضعيت اغېز کوي. دا تصور چي ګواکې د افغانستان په ورانولو سره به پاکستان سوکاله شي، ناسمه دی او دا چي فکر وکړو، که ايران له منځه ولاړ شي، افغانستان به ښه شي، ناداني ده. موږ بايد له دې وروسته پاتې والي، استبداد او بې وزلۍ د وتلو لپاره همکاري وکړو.

ومو ويل چي د مخکښو هېوادونو په نوملړ کې د څو اسيايي هېوادونو نومونه ليدل کېږي، خو په ټوله کې اصلي مقام د لوېديځ او په تېره بيا د اروپايانو دی. د کمزورو پاسپورټونو د خاوندانو په نوملړ کې زموږ له سيمې ليرې يو شمير غير اسلامي هيوادونه هم شامل دي. خو دا مقام په اصل کې په منځني ختيځ او اسلامي هيوادونو پورې اړه لري. په دې برخه کې پنځلس هېوادونه د اسلامي هېوادونو له نوملړه دي، له کوسوو پرته ټول غير اروپايي دي. کوسوو په دغه نوملړ شامل يوازينی اروپايي هېواد دی چي اوسېدونکي يې مسلمانان دي. نړۍ د دې خاورينې کرې له يوې برخې اوسيدونکو او د يو مهم دين له پيروانو وېره لري او هغوی ته د شک په سترګه ګوري. داسې نه ده چي زموږ د سيمې له اوسېدونکو يوازې لويديځوال او غير مسلمانان ډارېږي. د دغو وروسته پاتي هيوادونو د اوسيدونکو ترمنځ هم تګ راتګ هم خورا ستونزمن دی. هغوی پخپله له يو بله وېره لري او خپلو همدينو ته د وېزو له ورکولو ډډه کوي. زموږ د سيمې تمدني سقوط د پاسپورټونو په درجه بندۍ کې په ښکاره ډول ليدل کېږي.